# اجمل خټک يو گڼ اړخيز شخصيت
# او د گڼو صفتونو څښتن

ارباب جهاد گل

ستر قلم کار ښاغلي اجمل خټک د خوشحال خان بابا په لسم پښت کښې په اکوړې کښې يو علمي او ادبي کورنۍ کښې په کال ۱۹۲۵ کښې پيدا شوے دے. دوي ايله د اتو کالو وو چې د پلار سورے ئې له سر نه کوز شو. او د اوو خويندو يو ورور ؤ. د کنډې مور او پېغلو خويندو د کفالت ذمه واري ئې ډېره په نره قبوله او ترسره کړه.



ابتدائي زده کړه ئې د محلې د جماعت امام مولوي عبدالقيوم نه وکړه او گلستان سعدي، صرف و نحود فارسي نور کتابونه او د قرآن ترجمه د مولانا عبدالحق نه ووې. او د کلي د سرکاري مډل سکول نه ئې اتم جماعت پاس کړو او د گورنمنټ هائي سکول پېښور کښې ئې داخله واخسته.

د تعليم په دوران کښې ئې په نصابي او غير نصابي سرگرمو کښې برابر حصه اخستې وه. او د خپل خدائے ورکړو صلاحيتونو له کبله ئې په هر امتحان کښې ځانگړے پوزيشن ترلاسه کړے ؤ. په دغه زمانه کښې د فرنگي سامراج خلاف تحريک زور او شور سره شروع شو. طالبعلمان هم په دغه تحريک کښې شامل وو.

ښاغلي اجمل خټک صاحب هم په دغه تحريک کښې برخه واخسته. دوي په دې لړ کښې د طالبعلمانو رهنمائي کوله او غونډې به ئې تاکلې. يو ځل ئې يوه خفيه غونډه په کننگم پارک پېښور کښې

راغوښتې وه هر کله چې پولیس ته اطلاع ورکړے شوه نو دا غونډه ئې ناکامه کړه.

د لیاقت باغ د واقعې نه پس کابل ته جلاوطن شو. د شپاړسو کالو جلاوطنۍ نه پس وطن ته واپس راغلو نو د نیشنل عوامي پارټۍ مشر سیکټر او روستو بیا صدر وټاکلے شو. په دې کال ۱۹۹۰ کښې د اے این پي په ټکټ د قامي اسمبلۍ غړے منتخب شو. په کال ۱۹۹۴ کښې د سینټ غړے وټاکلے شو. دا ستر شاعر،ادیب، فلسفي او سیاسي قهرمان په لسمه فرورۍ ۲۰۱۰ء کښې زمونږ نه د همېش همېش لپاره جدا شو.

په کال ۱۹۴۲ کښې دوي د باقاعده تعلیم سلسله جاري ونۀ ساتلے شوه او په شل روپۍ میاشت تنخواه په سکول کښې استاذ وټاکلے شو. په دې دوران کښې د پنجاب یونیورستۍ د پښتو آنر او ادبي فاضل امتحانونه پس کړل او د دولسم او د څوارلسم امتحانونو ورکولو موقعه هم په لاس ورغله. چې کله ئې د ایم اے فارسي امتحان ورکولو نو دا وخت په جیل کښې ؤ. خو دا امتحان ئې د جیل نه په اوچتو نمبرو پاس کړو.

د پاکستان جوړېدو نه پس په ریډیو پاکستان سکرپټ رائټر په عهده باندې مقرر کړے شو. او په کال ۱۹۵۳ کښې د پښتون لیگ قائمولو په الزام ونیولے شو. هر کله چې په ړومبۍ پېشۍ کښې بري کړے شو نو د خفظ عامه د دفعې لاندې بیا گرفتار کړے شو او د ډېر تشدد سلوک ورسره وکړے شو.

ښاغلے اجمل خټک د باچاخان بابا حقیقي پیروکار او په پښتون قام ډېر مئین ؤ. دوي د بابړې د سانحې لیکلو دپاره کلي په کلي وگرځېدو او په ۱۹۴۷ء کښې دوي په اکوړې کښې د بزم ادب بنیاد کیښودو. دوي ۱۹۵۰ء کښې د پښتو د ادب په عنوان یو مقاله ولیکله چې د پښتو د کلاسیکۍ د ادبي تاریخ بنیاد او اساس وگرځېدو.

په کال ۱۹۵۲ء کښې خټک صېب د ستر ادیب سید میر مهدي شاه په تعاون سره نیشنل کانفرنس منعقد کړو چې د عبدالکریم لیکلې ډرامه ,,کاروان روان دے،، پکښې سټېج کړے شوه. په دې وجه په دوي یو بله مقدمه جوړه شوه. په کال ۱۹۵۸ء کښې د دوي د انقلابي شاعرۍ مجموعه ,,د غېرت چغه،، شائع شوه.

په کال ۱۹۶۲ء کښې د پښتو ادبي ټولنې کابل له خوا د دغه کتاب دپاره د لسو زرو انعام اعلان وشو خو خټک صېب د دغه انعام اخستو نه انکار وکړو او په ۱۹۲۰ کښې دوي د بانگ حرم اخبار مدیر وټاکلے شو. په کال ۱۹۲۱ کښې دوي د اولس ملگري تنظیم بنیاد کېښودو او یو کال پس یعني په کال ۱۹۲۷کښې د ورځپاڼې ایډیټر مقرر شو.

د اجمل خټک په شاعرۍ کښې د کلهم مظلوم انسانیت دپاره عموماً او د پښتون قام دپاره خصوصي توگه د بېدارۍ درس موندے

شي.

هغوي دا غوښتل چې انسان چونکې په فطري توګه آزاد پېدا شوے له دې کبله دۀ له دا فطري حق ترلاسه کول پکار دي. چې یو انسان د بل غلام نۀ وي. د دوي دا ارمان ؤ چې دنیا کښې دې نۀ څوک ظالم وي او نۀ مظلوم وي. او نۀ څوک جابر وي نۀ مجبور بلکې د معاشرتي ناهموارۍ ظلم بې انصافي او جبر او استبداد نه پاکه یوه داسې ټولنه (معاشره) دې وي چې په هغې کښې بنیادم د آرام او سکون ساه واخلي او د خپلو حقونو واکمن وي او آزادۍ سره ژوند تېر کړي.

خټک صېب مدام د داسې واکدارانو خلاف آواز پورته کړے دے چا چې د مظلومو عوامو په حقونو ډاکه اچولې ده. د خپلې دې سپېڅلې نظریې څرګندونه دوي کله د خپل رب مخاطب کولو سره کړې ده او کله ئې ظالمانو ته د پندۍ وهلو په شکل یا صورت کښې په خپل نظم کښې داسې وائي:

د لویو لویو قدرتونو ربه، یو تمنا ده اورېدے شي که نه
ستا د سکنې سکنې ملبلمه لوګړے، د چا زړۀ لوګړے لیدے شي که نه
ستا په رضا زما رضا ده ربه، کاڼي هم نفس پورې تړلے شمه
چې بل خمار په خزانه ووینم، آخر انسان یم څنګه غلے شمه

اجمل خټک مرحوم په اساسي توګه یو انقلابي شاعر ؤ. او یو خودداره سیاسي رهبر او خدائي خدمتګار ؤ. هغوي په هر دور کښې خپل قامي پېغام د خپلې سپېڅلې او ولوله انګیز شاعرۍ په ذریعه خپلو عوامو ته رسولے دے. د پښتو نه علاوه هغوي په اردو ژبه کښې هم شاعري کړې ده. د جلاوطنۍ شاعري د هغوي د اردو په شاعرۍ مشتمله ده چې د اردو ژبې شاعرانو او ادیبانو کښې ډېره مقبوله ده.

ټولو پښتنو شاعرانو او لیکوالو له پکار دي چې د اجمل خټک غوندې یو عهد ساز شخصیت نظریې او فکري او فلسفې له داسې وده ورکړي چې تل تر تله ژوندۍ پاتې شي.

په دې لړ کښې صوبائي حکومت له دا پکار دي چې محکوم او مظلوم قام د آزادیو او د باچاخان بابا د نظریې د خورلو په لړ کښې د بې حده سختو او تکلیفونو سره مخامخ شوے دے عظیم شخصیت په نوم یو تحقیقي سیل ټرسټ قائم کړي چې دغه شان د بابائے پښتو اجمل خټک صېب ټول لیکونه او تاریخ محفوظ کړے شي.

ټول خلق خپل شاعران،ادیبانو او رهنماګانو ته د ادب ګلونه پېش کوي مونږ هم خپل ستر مشر اجمل خټک ته د ادب په ژبه د عقیدت ګلونه پېش کوو. سحر کتوزے وائي:

ډیلي ته دې عظمت د خپل غالب ورمبارک شي
بنګال دې په ټیګور باندې بې شک فخر کوي

کوي دې فرنګے په شکسپیر باندې فخر
پښتون به په خپل نر اجمل خټک فخر کوي

☆☆☆